حاجی مهاجر    افغانستان، کابل ۲۰۰۹/۰۲/۲۰م

# حامد کرزی داوس دپاره ښه افشن
## دجلالزی صاحب دلیکنی جواب

جلالزی یوه لیکنه نشرکړیده چی په هغه کی حامد کرزی داوس دپاره ښه افشن بللی دی ده ډیره اوږده تبصره کړیده اوخبره له ښه ترننه یوځه ځیرلی ده زه دحلالزی ددی لکنی سره یوازی دتبصری ترحده یوځه موافق یم خو دعنوان اوکوم صفتونه چی ده دکرزی کړیدی موافق نه یم او حتی په کلکه یی ردوم مثلا:
هغه لیکی چی اوباما هځه کوی چی دټول ټاکنومخکی داسی یوه ځیره و مومی چی ورته دقناعت وړوی او په سمه کی دخپل ګډ هدف دپلی کولو دپاره په خپله خوښه وکاروی
که ځه هم زه دامریکا دپالیسی سره دهغی ورځی موافق نه یم چی دوی دکرزی په بن کی ټولو دیموکراتیکو اصولوبرخلاف وټاکی تاسی دبن فیصله پریکړه لیک او هغه کاندیدان وګوری چی اصلا کرزی دبن دګډون والونه ځورایی وړی دی ولی دی انتخاب سو پښتانه وایی چی سپره وی لاکړه وی وریپسی په امریکایان په هغه ورځ لاغولیدلی وه بیا چی کله ده اوخلیل زاد داضطراری لوی جرګی په بهیر کی لاس وهنه شروع کړه دادخرابی ادامه وه اودملت اوکرزی ترمنځ دفاصلی لیکه وه خکه ملت نوردکرزی اوامریکانه لیری والی شروع کړی بیا تراوسه خوزه دجلالزی داتحیلیل ځکه سم نه بولم چی که دامریکاپرځای بل هرځوک وی چی په هغه یو چاته یوکارپه لاس ورکړی اوټول مادی وسایل هم ورسره ورکړی اوپه هغه پوره نه وی مجبوره دی چی هغه لیری کړی حتی که جلالزی هم وی داسی کس به هسته کوی امریکا خپل ټول وس دکرزی په لاس کی ورکی هغه ونه توانیدی چی دهغووسایلونه چی نړیوالی ټولنی دده په لاس کی ورکړی وه سمه ګټه پورته کړی نه پیسی پرځای مصرف کړای سوی نه یی یوفعاله اداره جوړه کړای سوه اونه عام ولس پرځان راټول کړای سو . نه امنیت راوستلای سو نه یی اداری فساد کنترول کړای سو نه دقاچاقومخه ونیوله نوامریکایان به ترځودکرزی دفساده ډکی اداری ته ناست وی خپل زامن به هم وژنی پیسی به هم مصروفوی اوخلګوبدبینی به هم په غاړه اخلی نوکرزی صاحب خوتردی وروسته نه اهنګرته بیولای سی چی سم سیده یی کړی اونه یی نجارته ببولای سی چی وی تراشی چی په اوه کاله کی یی دومره ځه نه کړه زده چی خپل دوست اودښمن وپیژنی نودملت دوستان اودښمنان ځنګه پیژندلای سی دخلګودپاره به ځه وکړی ،
دوهم جلالزی حاحب وایی چی داومابابی اعتمادی زیاتیدل به پرکرزی دواشنګتن اداره نوره هم دستونزو سره مخامخ کړی
ولی برعکس زه به داپوښتنه بیرته جلالزی ته راجع کړم ایا دغه کړیدلی ملت ددغه لوږو بدمرغیو، فساد ، ظلم اوددغه قتل وقتال چی اوس په هیواد کی روان دی اوکرزی یی نه سی کنترولای دپنځوکالودپاره یی نوردزغملوتوان لری ؟ اوامریکایان اوناتوبه دومره مالی اوځانی تاوان ته دیوه کس دقدرت دپاره غاړه کښیږدی ؟ زما په اند دامریکا حمایه به دکرزی نه واشتنګتن دداسی ستونځوسره مخ کړی چی بیا به سوړی نه سی تړلای ځکه کرزی اوس نه امریکاته بلکه خپلی ټولنی ته بی باوره سویدی دهغه سره دیوه تن ملاتړی نه پخبل ملت کی سته نه په دولت کی یوه ولسمشرچی خپل لومړی مرستیال غندی اوپه ټګیواوفسادیی تورنوی نورځوک به په هغه ځنګه باورکوی امریکااوافغانان دواړه حیران دی چی اوس ددی فاسدی اداری نه ځنګه ځان خلاص کړی تاسی دکرزی صاحب نه پوښتنه وکړی شایدپه هغه ملیمستیاکی چی ستاسی په افتخاریی کړیوه تری پوښتلی مو وی چی په خوست کی خلګوځه درته ویل ؟ په پښتوکی یومتل وایی (چی اوږدرنځ دمرګ کښت دی ) داداره اوس هم په ملی کچه اوهم به نړیواله کچه د(اوبا)په مرض بدل سویده اوباماباید د(اوبا)دمرض نه ځان خلاص کړی اودابه یی ددی ملت سره سترمرسته وی که نه دی به هم زموږسره یوځای ددی مرض په تبه تباکیږی .
دجلالزی دخودلیلوپه جواب کی
هغه لومړ ی دلیل داښی چی حامد کرزی دهغوکسانونه شمیرل کیدای سی چی په ډیره لږموده کی یی مختلفی سیاسی ډلی ټپلی دمختلفوسیاسی لاروپلویان اودبیلابیلوایدیولوژیوخاوندان دښمنان سره راټول کړه اودیومیزپردوریی کښینول جناب جلالزی صاحب داسی مالومیږی چی تا ترساړه جنګ ورسته سیاست ته رادانګلی دی ؟اودی مکتب ته داخل سوی یی په افغانستان کی اصلا نه سیاسی ډلووجودنه دی درلودلی په هندوستان کی چی سیاسی ډلی سته ولی یی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

دومره ترقي کړيده نه دلته علمي اوسياسي ايډيولوزي سته دلته داساړه جنګ ددوران استخباراتي کړی وی چی وروروډګاونډيانوپه مليشوبدلي سوی کومه ډله چی سياسي ايديولوژی ولری ايا هغه خپل ولس وژنی ؟ هغه خپل ښارونه نړوی ؟ هغه دپيسوپه مقابل کی هرورځ خبله تګ لاره اوايديولوژی بدلوی ؟ هغه خپلوخلګوته دوکه ورکوی ؟ته داسي شاوخواسترګی ولغړوه چی پرون پرپاکوکالواولويه ړيره خلګ وژل کيده اوويل يی چی داقيوډال دی دامپرياليزم نوکردی نن هغوی دامپرياليزم څيره خواره دی دهغوی په غيړکی براته دی پرون چی دروسی ښکيلاک سره يوه ورځ کارکړی ودملحد پنامه وژل کيدی دمسلمان لاره بنديده ايدلوژی خپل سرحدونه لری نن استادرباني دګلاب زوی سره جوړيږی خودملاعمرسره يا دحکمتياره سره چی ټول ځانونه تکړه مسلمانان بولی نه جوړيږی دی ته ايديالوژی وايي داداايديولوژيوپيروان تاونه ليدل يواز ی په داديريش کاله کی ځوډوته ورخسيدل اول دشمال ټلواله دای ای اسی ای دکمپنی ساخت وپه يوه وخت کی يی دروس دايران دفرانسی دچين ، لندن عربوسره اړيکی درلودل ، اوبلاخره دامريکاسره يوځای نه سول داځنګه ايديولوزی وی يووارخوبش په جګړه کی کتا ب درواخله داکومی مليشی چی دساړه جنګ اوګاونډيانودلته پاته وی هيواديي په خرابه بدل کړی دی داکرزی نه دی سره راټولی کړی داپه بن کی ملګروملتويا امريکا دخپلی ويری دايران . روس ، اوپاکستان په واسطه مجبوره کړی سره يوځای يی کړی دملګروملتواودامنيت شورا مطلب داوچی په دی مليشوطالبيان وځپيی ولی دبده مرغه کرزی هغه مهارنکړای سوی خپل بی چاره ملت يی په وځاپه کرزی سره له دی چی ټولی چوکی دولتی ځمکی پيسی هرځه يی دوی ته ورکړه ايادوی اوس پريوه ميزسره ناست دی تاسی به دضيا مسعودداورستنی بيانيه اوريدلی وی کرزی خپل هغه ګروپ متحد ونه سوساتلای چی دده او دده پلاره سره شل کاله يوځای مبارزه کړيوه اوديو ی لاری اويوی نظری خلګ وه نن رسول امين چيری دی ؟نن اشرف غني چيری دی ؟ نن االحدی چيری دی نن جلالی چيری دی ؟نن ديخوانی پاچا ملګری اوکورنی چييری ده يوځوک چی خپل متعهد ګروپ نه سی ساتلای هغه مخالفی ايديولوژی ځنګه ساتلای سی کيدای سی چی دامخالفی نظری په يوه پارلمان کی ګزاره سره وکړی خوپه يوه کابينه کی په هيځ صورت نه سی کولای چی دوی پرمخ ولاړسی دکرزی دناکامييواساس دادی چی ده دالړمان اوماران په کابينه په قضا اوامنتی ارګانوکی سره راټول کړيدی همداعلت دی چی نه امنيت راوستلای سی اونه پرمختګ کولای سی ځکه دادمليشوپاته شونی وکرزی ته دومره وفاداره نه لکه هغه بهرنی استخباراتی کړيوته چی دوی يی ديريش کاله روزلی دی او س کرزی په يوه بوجی کی اچولی دی هغه لکه دګورچنچان پخپله سره خوری بيخی دباندی مبارزی ته اويا پرمخ تګ ته وخت نه لری تاسی هرات ته راسی هلته وګوری چی استپنتااواسماعيل خان ملګری اوباندونه يوپربل ځنګه فتوای باسی داسی نن دکرزی دولت کمونستان يو ی خواته اخوانيان بلی خواته افغان ملتيان بلی خواته حضرت اوپيريی بلی خواته استادربانی بلی خواته اواستادسياف بلی خواته کشوی اوددولت زور په دننه کی خنثی سويد ی دپرمخ تلودحرکت توان نه لری کرزی يوکارکړيدی چی دساړه جنګ ددوران اوکاونډيانوداستخباراتی مليشوکومی بقاياوی پاته وی دهغوی غله اوجنايتکاران يی سره متحدکړه اوولس يی په وځاپی اوبيايی دوطن دښمنانوته تړلی دروازی ورخلاصی کړی

بل دليل يی داښودلی دی : چی دملی يووالی په برخه په راوستلواودهيوادټولواکثريت اواقليتيتونوته دهغه خاصه پاملرنه هغه ځه دی چی دکرزی په وجودکی ليدل کيږی

ښاغلی جلالزی صاحب مهربانی وکړه هغه احصاييه درواخله چی دملګروملتودافغانستان په اداری واحدونوکی دددوهم رتبی نه تربست لوړوربتوپوری کړيده چی ځوفيصده پښتانه دی ځوفيصده تاجک دی ځوفيصده هزاره دی ځوفيصده ازبک دی ځوفيصده دانورقومونه دی بيا نودشيخ محسنی مدرسی ته ولاړسه بيا دپل خشتی جامع ته ولاړسه بيا دتخاردمهاجروزندان ته سرورايسته کړه بيا ولاړسه دکابل چهاردهی ته دخليلی ورور دچا پرهديروښارونه جوړکړيدی که دی ته ملی وحدت وايي چی دهزاره ګانواوپښتنوشميرپه کابينه کی يوډول وی نوملی جلالوالی ته کوم نوم استعمالوی اوداسی نور؟

بل دليل يی دادی چی په نړيواله ديپلوماتيکه ژبه خبری کول اونړيوالونه په بيلابيلوپلمومرستی راټولول بل هغه ځه دی چی دولسمشريزوراتلونکوټولټاکنوکی دحامدکرزی په وړاندی دنورووالاړوکانديدانوپه وجودکی نه ليدل کيږی

داسی خبره ده چی نه نړيوال ليونيان دی نه دومره ساده ګان دی خصوصا دغرب قانون اوکلتورداسی دی چی دهغوی شناخت ترخپله مطلبه دی نه دکرزی پرمخ مين دی نه زما نه کرزی کومه داسی کارنامه غربيانوليدلی ده چی هغه کاردی بل ځوک نه سی کولای زه پردی ويريږم چی داکومی پيسی چی کرزی له نړی نه په مختلفوبهانوراوړی نه امنيت په سميږی نه دخلګوژوند په سميږی نه نه ولس ته ګټه رسيږی اوپرورکه خواځی په دوبی ، واشنګتن اولندن کی يا چورپورکی قصرونه په جو ړيږی ډيرژربه نړيوالوته خپل خلګ اوخپل پارلمانونه ووايي چی موږ دغلوټيکه نه ده وهلی چی موږپسی غلوته ورکووپه پښتوکی يومتل دی وايي چی ( دغله مورکله دلم سپيني خوری کله دزړه وينی ) يوه ورځ به دځوغلودلاسه دفغانستان سپيځلی خلګ دغلوپه نوم ونومول سی اوداپاکه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

خاوره به دغلودمورپه نوم یادیږی اوبیابه هغه متل وی چی وایی ( خواره بازاری هغه ته هغه دی خواری )سره پاته سو بیا به دګاونډیانوملیشی دخلګوپه سرکی میخونه ټکوهی اویابه مودبنخوسینی پری کوی

بل دلیل یی دادی : چی دسیاست والوسره دسیاست په ژبه اوله بزګروسره بزګرکیدل دکرزی یوه خاصه ځانګړیتا ده جلالزی صاحب ته دکرزی ورځی خبری دبلی سره دمابنام خبری دسهارسره مقایسه کړه چی څوفیصده سر سره خوری دی ته ځنګه سیاسی ژبه وایی اوداچی یو څوک یایوحیوان دهرچاپه بڼه کیږی اودهرچا شکل غوره کولای سی دغله سره غل وی دصادق سره صادق وی هغه ته په اسلام یونوم اینبودل سویدی چی یادول یی لازم نه دی اوپه عامیانه کلتورکی بل نوم دی چی نوم اخیستل دقلم عفت ته زیان رسوی دیوه مدبرشخیصیت یوه خبره وی یوه پریکړه وی هغه هم ډیرسنجیده اوپخه په دغه ژبه چی دی خبری کوی که چا دسیاست یوکتاب هم ویلی وی په شرمیږی

بل دلیل یی دهغه زغم بنودلی دی چی په حیقیقت زغم یوه بنکلی اسلامی کلیمه ده خوهغه دیوه انسان دشخصی امورسره ډیراړیکه پیداکوی دیوه حکمران دکړوړوسره ډیری اړیکی نه لری کله چی یومسلمان یوحکمران په سترګووینی چی پرحق څوک دی اوپرځوک دی اوسپینه خبره نه سی کولای اویا حق پټوی اویا دناکی په مقابل کی زغم کوی یا دغلواوناروااوخلګوملاتړدانه اسلامی کلتوردی نه افغانی اخلاق دی حق حق دی ناکی ناکی ده کرزی کوم ناحق ته په کلکه ویلی دی دی موږ هرزغم ته زغم نه سوویلای دقبرودمړوپرسرهم ترسهاره خیژه لویزه ورته وایه دادزغم بنه کلتورلری وروره داوطن ربنتینی صادق اومدبر باجراته مشرته ضرورت لری محافظه کاری دحق په مقابل کی داسلام سره دبشریت سره دحقیقت سره جفاده ظلم دی ناروادہ په تخارکی کی وګوره دی ته زغم وایی که بی ایمانی که بزدلی ؟ خدای ته وګوری داسی لیکنی چی دیوچاپه وجودکی کوم صفات نه وی دځانه مه کوی داملت خوداسی کسان نه سی اداره کولای داکه یی ته خوبنوی اویایی بش خوبنوی یا یی ابامه خوبنوی دابیا ستاسی کاردی

بل جلالزی صاحب په اداره دځپونکی فساد شتون دټولومسولیت ګڼلی دی په دی کی هیڅ شک نسته ولی کفراګرازکعبه خیزد کجا ماند مسلمانی کله چی ولسمشردومره کمزوری وی چی داداری فساد داداری چی هم ده ټاکلی دی اودده ترریاست لاندی کارکوی مشرته مخ اړوی چی ته راسه اول دازما اداره اودفترااصلاح کړه ددی خبری مانادده چی داسی کسان خپل یووړوکی دفترنه سی اداره کولای اوپه بوبل بوډاچی په خوله یی اوس خلګ پیازنه میدوی هغه ته زاری کوی چی ته زما دفترااصلاح کړه نوداسی کسان یوداسی پاشلی ملت ځنګه رهبری کولای سی

بل دلیل یی داسی بنودلی دی چی کرزی خوندی بل هیڅ داسی کس نسته چی دهرااړخه پوره وی اودولس دردونه په یوه اویادوکلونوکی حل کړی

قدرمن جلالزی صاحب موږیوخدای پاک لروچی هرارخیزه پوره دی نورپه بنده ګانوکی داقدرت نسته چی هغه دی هرارخیزه پوره وی ماخودخدای په بندګانوکی نه دی لیدلی داچی تاکرزی لیدلی دی ډیردتعجب ځای دی ته افغانستان دومره مه توهین کوه چی په ټول افغانستان کی دده په سویه کس نسته دادبازانوځالی ده پبنتانه وایی( دبازځاله بی بازه نه وی )هوداسی بی اداری کسان ډیر لږدی چی خپل ورور نه سی اداره کولای ته هغه دلندن نه دکرزی په نامه سرخلاصی لیک وګوره اوبیا دکندهار دپخوانی والی په هکله دسرحدونووزارت ته یی معرفی کړیدی دخلګوفریاد ووایه قضاوت وکړه چی داڅومره پوره دی هودده په شان داسی خلګ نه سته غله دولس پراوړو په داسی بنسټیزډول سپاره کړی داته خولاقل کولای سی چی داخپله رسنی بنه اداره کړی اوترده ډیروخلګوسره سروکارهم لری ولی دی داتوان هم نه لری چی خپل یوځوسکرتران اداره کړی اوعثمانی ته زاری کوی وسلام

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de